# د SDP د نوم لیکنې چک لیست

دا چک لیست به د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) کې د ګډون کولو پروسه کې ګام په ګام لارښوونه کولو کې تاسو سره مرسته وکړي. هر ګام تاسو دې ته نږدې کوي چې خپلو خدماتو باندې لا زیات کنټرول یعني واک ولرئ او هغه انتخابونه وکړئ چې ستاسو د ژوند سره سمون لري.

| | | |
|---|---|---|
| ګام 01 | په یوه معلوماتي غونډه کې ګډون وکړئ | خپل سیمه ییز مرکز ته زنګ ووهئ ترڅو د SDP یوې معلوماتي غونډې لپاره نوم لیکنه وکړئ. تاسو به زده کړئ چې SDP څنګه کولی شي تاسو ته ستاسو په خدماتو لا زیات کنټرول یعني واک درکړي. |
| ګام 02 | خپله وړتیا تایید کړئ | خپل د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ ترڅو وګورئ چې آیا تاسو یا ستاسو عزیز د SDP لپاره وړتیا لرئ یا نه. |
| ګام 03 | د پېژندنې او لارښوونې روزنه ترسره کړئ | د پروژې د دندو اداره کولو او عملي کولو په اړه بشپړه پوهېدنه ترلاسه کړئ. |
| مرحله 04 | یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی انتخاب کړئ (IF) | یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی انتخاب کړئ ترڅود دې پروسې په بهیر کې لارښوونه کولو کې تاسو سره مرسته وکړي. IF اړین نه دی، مګر ډېر ګټور دی. |
| ګام 05 | خپله شخصي بودیجه ترلاسه کړئ | خپل د خدماتو همغږي کوونکي سره ګډ کار وکړئ ترڅو ستاسو شخصي بودیجه ترلاسه کړئ، کومه چې به ستاسو خدمتونه او ملاتړونه تمویلوي. |
| ګام 06 | یو پر فرد تمرکز کوونکی پلان (PCP) جوړ کړئ | د خپل IF، کورنۍ یا نورو کسانو سره ګډ کار وکړئ ترڅو یو پر فرد تمرکز کوونکی پلان (PCP) جوړ کړئ. دا پلان باید ستاسو د ژوند اهداف او هغه ملاتړونه څرګند کړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. |

## ګام 07
### د لګښت پلان (Spending Plan) جوړ کړئ

د خپل IF، کورنۍ یا د خدمتونو همغږي کوونکي په مرسته د لګښتونو یو پلان (Spending Plan) جوړ کړئ، چې دا ښيي چې تاسو به د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره خپله بودیجه څنګه کاروئ.

## ګام 08
### د مالي مدیریت خدمت وړاندې کوونکی (FMS) انتخاب کړئ

ستاسو د بودیجې اداره کولو، تادیاتو سمبالولو او ستاسو د لګښتونو تعقیبولو لپاره د مالي مدیریت خدمت وړاندې کوونکی (FMS) انتخاب کړئ.

## ګام 09
### خپل د انفرادي برنامې پلان (IPP) حتمي کړئ

ستاسو د خدمتونو همغږي کوونکي سره وګورئ ترڅو ستاسو د انفرادي برنامې حتمي پلان (IPP) بیاکتنه وکړئ، چې پکې ستاسو د لګښتونو پلان او انتخاب شوي خدمتونه شامل دي.

## ګام 10
### د خپلو خدماتو کارول پیل کړئ

ستاسو په پلان کې موجود خدمات کارول پیل کړئ او په منظم ډول د خپل IF او FMS سره اړیکه ونیسئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې هر څه په ښه ډول روان دي.

## ګام 11
### هر کال د خپل پلان بیا کتنه وکړئ

هر کال د خپل IF او د خدمتونو همغږي کوونکي سره په ګډه د خپل پلان بیاکتنه وکړئ ترڅو ستاسو د بدلېدونکو اړتیاوو پر بنسټ خپل خدمتونه نوي کړئ.

### د پیل کولو لپاره چمتو یاست؟

د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه ستاسو لپاره یو فرصت دی چې د خپلو خدمتونو او ملاتړونو واک واخلئ. دا دي لپاره دی چې تاسو ته د انتخاب، لچک، او خپلواک ژوند فرصت درکړي.

د نورو معلوماتو لپاره یا د پیل لپاره د خپل سیمه ییز مرکز د خدماتو همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسئ یا SDPQuestions@altaregional.org.

د Alta Regional Center د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (Self-Determination Program) سیمه ییزې مشورتي کمیټې (Local Advisory Committee) لخوا تمویل شوی
*@SDPQuestions*
د خپلواکو اسانتیا برابرونکو د روزنې اکاډمۍ په همکارۍ سره www.iftrainingacademy.com